آصف بهاند

# ډنمارک ته د استاد سعدالدين شپون د راتگ کيسه

# او د هانس

## «د امپراتور نوې جامې»

(د شپون صاحب اووم تلین)




### استاد شپون څنگه ډنمارک ته راغی؟

کله چې شپون صاحب له خپلې کورنۍ سره ډنمارک ته راغی، په هغه کور کې دېره شو چې د ډنمارک مشهور لیکوال هانس کریستین اندرسن هم هلته ژوند کړی و. د شپون صاحب په اوتوبیوگرافۍ کې راغلي دي: دا کور چې دی (شپون) په کې استوگن شو، دا د هانس خپل کور و چې د هانس د وصیت له مخې به وروسته د ده تر مړینې، دولت ته سپارل کېږي. په داسې حال کې چې د هانس په باب په شته اسنادو کې راغلي دي چې هانس هیڅکله خپل ملکیت کور نه درلود:

H.C. Andersen har aldrig ejet en lejlighed eller et hus.

ژباړه: «هانس کریستین اندرسن هېڅکله خپل اپارتمان یا کور نه درلود.»

نور معلوماتو په لاندې لینک ترلاسه کولای شئ:

https://www.hcandersen-homepage.dk/?page_id=32970

هانس لکه «چېرته یې بنه، هلته یې شپه» کله دلته، کله هلته اوسېده. کېدای شي دلته یوه ناسمه پوهېدنه یا سؤتفاهم شوی وي چې شپون صاحب لیکلي دي چې دا کور د هانس و. په هرصورت، شپون ډنمارک ته په راتلو سره په یو کور کې ځای پر ځای شو او ښایي ورته ویل شوي وي چې دا د هانس کور و.

استاد سعدالدين شپون د ډنمارکي اتنوګراف کلاوس ويلهيلم فرديناند (Klaus vilhelm Ferdinand) په مرسته ډنمارک ته په پوهنتون کې د تدريس له پاره راغی.

دا کلونه پخوا ما د کلاوس په باب ليکلي وو چې د ډنمارکی اِتنوګراف، کلاوس ويلهيلم فرديناند په باب خبرې کول او څه ليکل د دې له پاره اړين دي چې يو خو يې د افغانستان د خلکو، د افغانستان د دود دستور او کوچيانو د ژوند د څرنګوالي په باب ډير کار کړی دی او بل دا چې د همدې ډنمارکی کلاوس فرديناند هڅې، مرسته او تشويق و چې د پښتو ادبياتو د اوسنۍ دورې د داستاني ادبياتو د پاچاګي، سعد الدين شپون، د ژوند لوری يې وربدل کړ.

استاد سعدالدين شپون له ډنمارکي اتنوګراف کلاوس ويلهيلم فرديناند (Klaus vilhelm Ferdinand) سره په افغانستان کې دننه اوږده موده د ژباړونکي او همکار په ډول کار کړی دی. کلاوس وکولای شول چې شپون د ژوند په داسې پړاو کې له ستونزو وژغوري، چې هغه د ژوند د پرابلمونو سيلاو پسې اخيستی و.

(شپون سعدالدين، و، نه و، يو شپون و، دانش خپرندويه ټولنه، ۱۳۸۴ل ـ ۲۰۰۵م کالونه، ۲۱۰ ـ ۲۱۱ ـ ۲۱۲ مخونه)

ډنمارکی اِتنوګراف، کلاوس ويلهيلم فرديناند، د ۱۹۲۶ کال د اپريل په نولسمه (۱۹مه) نيټه، د ډنمارک د شيلند جزيرې په «هيه لوفس هولم» (Herlufsholm) نومي ځای کې زيږيدلی او د ۲۰۰۵ کال د جنوري په پنځمه (۵ مه) د ۷۸ کلونو په عمر مړ او د ډنمارک په آغوس نومي ښار کې خاورو ته سپارل شوی دی.

کلاوس هغه څوک و چې د شپون لاس يې ونيو، د بې سرنوشتۍ له ستونزو نه راويسته او د ډنمارک تر کوپنهاګن پوهنتون پورې يې را ورساوه. وروسته بيا په امريکا کې شپون بل کار پيدا کوي او له خپلې کورنۍ سره امريکا ته کډه کيږي؛ نو د کلاوس د دې خدمتونو په پار لومړی بايد ټول افغانان، بيا ټول پښتانه او په ځانګړي ډول د شپون صاحب کورنۍ له ډنمارکی کلاوس فرديناند څخه مننډوی اوسي چې زموږ د ادبياتو دا ستره هستي يې تر ډنمارکه پورې راورسوله او بيا شپون له ډنمارک څخه امريکا ته ولاړ او هلته يې بيا وکولای شول چې د پښتو په داستاني ادبياتو کې د حساب وړ آثار وپنځوي.

ما پخوا هم دا ليکلي وو چې له افغانستان نه د شپون صاحب د وتلو په اړوند د دې خبرې يادول اړين ګنم چې د شپون اقتصادي او سياسي حالت د دې جوګه نه و چې دی دې مخامخ امريکا ته لاړ شي. د ده په ليکنو، په تيره «و، نه و، يو شپون و» کې د راغلو اسنادو او کيسو په استناد، شپون د ډنمارکي کلاوس فرديناند (Klaus Ferdinand) په مرسته له سختو حالاتو راو ايستل شو. په دې باب د شپون صاحب په ياداشتونو کې داسې راغلي دي:

«خلکو ويل چې د پيرصاحب آزار وهلی يم، خو يوه مياشت پس مې چې د تلويزيون آنتن په بام دراوه، ... برق ونيولم... بس بيخوده پريوتلم. زه خبر نه وم چې پښو مې د څپلکو سره اور اخيستی و. زموږ کور ته مخامخ د پاکستان د يو پيلوټ کور و، چې زما د بچيانو په شورماشور خبر شو، په منډه راغی. هغه د بامه په اوږه کوز چمن ته وړی وم، چې يې کتلي چې زه سا نه کاږم نو يې مصنوعي خوله په خوله سا راکې غړولې وه، چې بيرته مې سا رابشکل چالان شوي دي. هغه هم د پيښور هسپتال ته چلولی وم. درې ساعته بې خوده وم، چې سترګې مې پرانستې، ګورم چې کورنۍ او دوستان ډله چارچاپيره ولاړ دي. اوله پوښتنه مې دا وه چې دا کوم ځای دی؟ بيا مې چې د سپينو جامو ډاکتران وليدل، نو ومې ويل اوس پوهيږم چې په هسپتال کې يم، خو بس دا يوه پوښتنه راته ځواب کړئ او هغه دا چې ولې دلته يم؟ کور والا راته کيسه تيره کړه، ايله مې سر خلاص شو.

په ځای کيناسم، خو خوا مې را هسکېده. ډير وروسته يې چې کور ته راوستم، نو مې پام شو چې د ښی پښې ګوتې مې ورتې غوښې او غټه ګوته مې سوی سکور و.

دوه مياشتې په ځای پروت وم او دربدرۍ او پيسو نشتوالي نه نيولې، تر بې وطنۍ او ناروغۍ پورې له هرې خوا راباندې هجوم و. بيا د پلار خبره سترګو ته راته ودريده، چې ويل به يې بچيه چې سخته دربانډې راغله، نو د ځانه سره دا ګردانوه، چې صورته! تيره شه! ما ويل چې صورت به مې تيره شي، خو د زړه سره څه وکړم، د بچيانو د ورو نسونو سره څه وکړم؟

## د نجات پرښته:

يوه ورځ د پېښور په غرمو کې په کټ پروت وم او په چاورۍ مې د ځانه مچان شړل چې چا ور وټکاوه. زوی مې ورغی او وارخطا بيرته راغی، ويل يې يو سور ږيری شين سترګی په انګريزي ستا نوم يادوي. دا وخت نو زما بچيانو په سکول کې يو څه انګريزي ياده کړې وه. ما وويل، ښځينه و ته وايه چې يوې خوا ته شي، بس رايې وله، چې راغی نو ګورم چې زوړ يار ډنمارکی کلاوس فرديناند دی. کټ ته مې ودريد او زما د حال پوښتنه يې وکړه. ما ويل ته خو کښينه زورورو. پس له چايو او ډوډۍ مې وپوښته، چې څنګه راپيښ شوی يې؟ هغه وويل چې زما اکاخيل کوچيان همدلته چيرته پراته دي، د هغو احوال اخستلو د پاره راغلم او هم مې په کونړ کې د يوې پروژې د پاره بودجه راوړې، چې هغه سررشته کړم. خپله کيسه يې راته تيره کړه، چې د کوچيانو د مشر کاکا زوی سرور خان د لوګر د ازرې نه د چا په لاس احوال را استولی چې که په پېښور راپيښ شوې، يو ځلې زمونږ کيږديو ته هم سر راښکاره کړه.

کلاوس ويل چې په ډينز هوټل کې مې اړولې، ستا پته مې د مجروح نه واخيسته، راغلم چې دواړه سرور خان ته ورشو، نو اوس ګورم چې ته پروت يې، څه خبره ده؟

ما ورته د کاکړو د خان کيسه چې دواړو تل يادوله تکرار کړه، چې چا ترې پوښتنه کړې وه، چې څه ناروغي لرې؟ هغه ويلي وو: «چې درو عزيزانو ګوته پرې کېښوده» دواړه وخندل. بيا مې د پرې شوې ګوتې کيسه ورته وکړه او ومې ويل، چې سرور خان ته خو به که نور نه وي، په لکړه درسره لاړ شم.

په بله ورځ کلاوس د ډنز نه راغی، موټر يې راوستی و. په لکړه وروختم او لاړو. په پوښتنو مو د کوچيانو کمپ صحيح کړ. د کچه کړی د يوې غونډۍ پورې لس دولس کيږدۍ لګې وې.

هلاله، شوه، لکه چې ټولو د ديرشو کالو يار، کلاوس پېژانده. چا د سرور خان کيږدۍ ته بوتلو، سرور خان هم زما په شان ناسازه وو، لکړه يې لګوله بهر راووت او د کلاوس سره تر غاړې ووت. بيا نو تر ماښامه مرکې، ټوکې ټکالې او د پخوا وختونو کيسې وې. د سرور خان يوه خبره مې هر، هر ځای کړې او هيڅ به مې هېره نه شي چې کلاوس ورته وويل، ته خو اوس په حزب اسلامي کې يې، اتلس کسه مو قرباني ورکړې، نو که روسان ووتل او قدرت ستاسو شو نو بايد چې غټ منصب درکړي، د کوچيانوريئس به شې که څنګه؟

سرور خان په خندا وويل کلاوشه (هغوی به کلاوس ته کلاوش ويل) ماموريت ګناه ده ځکه چې په هغې کې رشوت، حق تلفي او خنايت (خيانت) خامخا راځي، دا کار نه کوم، چې جهاد ختم شو نو په ازره کې د يوې غونډۍ پورې کيږدۍ لګوم، يو تره خولی سپی به رانه تاو راتاو کيږي، يو څو ميږې به مې شپاله کې بغيږي، په بيغمه زړه به د اوس په شان خپل قاچاق کوم!

کلاوس د ورځې د غير حکومتي موسسو يا انجيوګانو سره بوخت و، شپه يې په ما راوړه. يو ماښام يې راته وويل، چې راځه د ډنمارک د خيريه مؤسسې رئيس شه، چې هم دې ګوزاره وشي او هم پام پرې غلط کړې. ما وويل د هغې په ځای ولې د سرور خان سره قاچاق نه کوم؟ زه د دوو خرو وربشې سره بيلولی نه شم، نه مې رشوت اخيستی او نه مې ورکړی دی. اوس مې د تنظيمونو او کونړيانو په بلا مه اخته کوه. څو ورځې ورک و، لکه چې څوک افغان يې ورته پيدا کړی و، يا به يې د پخوا نه په نظر کې وو.

يو سهار د خداى پاماني د پاره راغی. پس د سباناري يې وويل، ولې نه راځې چې د کوپن هاګن پوهنتون کې د کلتوري انتروپولوژئ په څانګه کې څېړنه او تدريس وکړې. هم به درته تبديل هوا (د ځای بدلون) شي، پام به دې په بله شي او هم به ستا نه يو څه ګټه واخلو. ما وويل ماشومان به څنګه شي؟ هغه وويل ته يو ځلې راشه، که دې کار خوښ شو، هغوی به راوغواړو.

کلاوس لاړ او يوه مياشت پس يې يو موقتي پاسپورت او يو تکټ راواستاوه. بس لاړم. دوه مياشتې پس بېرته پېښور ته ستون شوم او د مېرمنې سره مې مشوره وکړه، هغې وويل بې هغې هم مهاجر يو، نه مو پېښور خپل وطن دی، د بابا کور به مو وي خو اوس رانه پردی دی او نه د دنيا بل ځای، بس ستا خوښه.

هم مې زړه کيده هم سړه. د پيښور نه که نور څه نه و د وطن بوی خو راته، خو چې به مې د تنظيمونو ناخوالې په زړه کړې، نو وبه بوګنيدم. د مجروح خبره راته نيغه، نيغه کېده چې «موږ په دې چاپيريال کې ډيناساران يو، نه تيرې داړې لرو نه څغاسته کولای شو، پښې مو نرۍ دي، جوثه مو ستره، نو ډير ژر به له منځه لاړ شو»

د ډنمارک يو پخواني ليکوال هانس کريستين اندرسن په درسته نړۍ کې په دې شهرت لري، چې د ماشومانو د پاره يې د ديوانو او ښاپيريو کيسې ليکلې. يوه ډېره خوندوره کيسه يې «د باچا نوې جامې» نومېږي...»

(شپون سعدالدين، و، نه و، يو شپون و، دانش خپرندويه ټولنه، ۱۳۸۴ل ـ ۲۰۰۵م کالونه، ۲۱۰ ــ ۲۱۵ مخونه)

شپون صاحب د هانس دا کيسه په لنډ ډول، خو په خپل انداز سره ليکلې ده، ما آصف بهاند همدا کيسه څوکاله مخکې د «د امپراتور نوې جامې» (Kejserens nye Klæder) ترسرليک لاندې ژباړلې ده چې د دې مقالې په پای کې به يې د موضوع د جالبوالي لپاره بشپړ متن راواخلم.

شپون صاحب تر همدې کيسې وروسته خپل بحث داسې غځوي:

«نو دغه ليکوال هانس کريستين اندرسن په ډنمارک او درستې نړۍ کې مشهور شو، چې مړ کېده نو د کوپنهاګن د ښار په منځ کې يې يوه بنګله وه چې هغه يې حکومت ته ورکړه او ورسره يې دا وصيت وکړ، چې هغه به په نوبت هرکال يوه وتلي ليکوال ته ورکوي. حکومت د دې ماڼۍ سمبالول د ډنمارک مرکزي بانک ته وسپاره. زه خو نه ليکوال وم، نه وتلی، خو هغه ماشوم ضرور وم، چې د خلکو بربنډتيا مې رسوا کوله. په کابل، پېښور او حتی په امريکا کې مې هم همدا کار کړی دی، نو نه پوهېږم وړ يې وم که نه، يا به يې زما د ماشومتيا کم عقلۍ ته کتلي وي، خو همدا کور زما په برخه شو. د بانک نه مې پوښتنه وکړه، چې څه لوښي او ديګونه مې چې د پېښور نه د ځانه سره راوړي، نو نور به همدلته واخلم که څنګه؟ بانک راته وويل چې د کاچوغې نه نيولې، د تشناب تر کاغذه پورې هرڅه شته دې، بس راشئ په کې واړوئ. راډيو، تلويژيون، د کوټو ترمنځ تلفونونه، لوښي، حتی تر سابون پورې هرڅه په کې و.

ماشومان هک پک پاتې شول او مېرمنې مې ويل چې اوس نو زما د پخلي نندارہ کوه. کال مې هماغلته تېر کړ، يو مشکل چې و هغه د ژبې وو. ډنمارکي زما د پاره مشکله وه او هسې هم ما د ډېر وخت پاتې کېدو پاتې کېدو اراده نه لرله او د مجروح د ملنډو سره سره مې بېرته تګ ته پخه اينې وه.

ما ويل لکه دا اوس چې وايم، چې يوځلې ماشومان خوندي کړم، بيا نو بېرته عزيزانو ته ورستنېږم. په ډنمارک کې يوځلې ډاکټر صمد حامد هم راغی، څو شپې مې د ده د فضيلت نه برخه يوړه. حتی د کوپنهاګن د پوهنتون استادانو او کلاوس هم د حامد د پوهې او درايت ستاينه کوله.

په دې وخت نو په سويډن کې واک د سوشال ډموکراتانو و، اولاف‌پالي ـــ اولاف بالمې (اولوف پَلمِهِ) صدراعظم و. نه پوهېږم ولې او څنګه د ده حکومت وروبللم او پارلمان کې مې د افغانستان د داعيې بيان ورکړ...

د ۱۹۸۲ په آخري شپو کې يوه ورځ د امريکا نه تلفون راغی او بلنه راکړ شوه، چې د امريکا غږ پښتو خپرونه شروع کېږي، تا ته ضرورت دی، بيا مې مېرمنې سره مشوره وکړه. هغې وويل موږ ته ډنمارک او امريکا يوشی دی، چې په کومه مو بيايې خوښه ستا ده. ماشومانو ټولو په امريکا رايه ورکړه، ويل يې چې ډنمارکي سخته ژبه ده، بل چېرته په درد نه خوري...»

(شپون سعدالدين، و، نه و، يو شپون و، دانش خپرندويه ټولنه، ۱۳۸۴ل ـ ۲۰۰۵م کالونه، ۲۱۵ ـ ۲۲۰ مخونه)

په دې ډول استاد سعدالدين شپون له پېښور نه ډنمارک ته او بيا امريکا ته ورسېد.

د همدې مقالې د ليکلو په شېبو کې مې کله چې د شپون صاحب په يادداشتونو کې د هانس د يوې کيسې (د امپراتو نوې‌جامې) سرليک وليده، نو راپه زړه شول چې د هانس کريستين اندرسن دا کيسه ما لا پخوا ژباړلې وه. اړينه يې ګڼم چې دا کيسه دلته هم د دې بحث په پای کې راواخلم:

## د امپراتور نوې‌جامې

## Kejserens nye Klæder




کلونه پخوا يو امپراتور ژوند کاوه چې نوې او ښکلې جامې يې ډېرې خوښېدې او خپلې ټولې پيسې به يې د ځان په سمبالولو لګولې. هغه خپلو سرتيرو ته هم پام نه کاوه، کومې ننداري ته نه ته، د آس په سورلی د ځنګله په سيل هم نه ووت؛ خو د خپلو نويو جامو د ښودلو له پاره يې ښه ډېر وخت او ښې ډېرې جامې

درلودي، داسې چې د ورځې د هر ساعت له پاره يې يو جوړه کالي درلودل او پر له پسې به يې بدلول. دی دومره مصروفه و چې فکر کيده چې«امپراتور د مشاورې يا مصلحتونو په کوټه کې دی»، خو په اصل کې داسې و چې:«امپراتور د کاليو په الماری کې لګيا و»

د امپراتور د اوسيدو ښار، له خوښيو ډک ښار و. هره ورځ هغه ښار ته ډير نا پيژانده خلک راتلل. يوه ورځ دوه حيله ګر دې ښار ته ورغلل او ځانونه يې ټوکر جوړونکي معرفي کړل. هغوی ويل: تر ټولو ښکلی ټوکر، چې فکر يې کيږي، کولای شي و اوبي، داسې ټوکر چې نه يوازې دا چې رنګ او طرحه يې ډيره عالي او ښکلې وي، بلکې هغه جامې چې له دې ټوکر نه اوبدل کيږي، يوه بله عجيبه ځانګړنه هم لري: هغه څوک چې د خپل مقام وړ نه وي يا ډير احمق وي، د چا پر بدن يې نه شي ليدلای.
کله چې واکمن دا خبرې واوريدې، ځان سره يې و ويل:«په رښتيا ډيره په زړه پورې به وي چې داسې جامې واغوندم، بيا نو کولای شم پوه شم چې زما په امپراتورۍ کې څوک د خپل مقام وړ نه دی او و به کولای شم چې د پوه او نا پوه توپير وکړم. هوکې بايد ژر تر ژره زما له پاره همداسې کالي جوړ کړای شي.» دواړو تير ايستونکو نارينه ګانو ته يې ښې ډيرې پيسې ورکړې چې خپل کار پيل کړي.
تيرايستونکوو خپله دستګاه کيښوده چې ټوکر و اوبي، خو دستګاه کې د اوبدلو له پاره هيڅ شی نه وو. هغوی له امپراتور نه وريښمين او طلايي سپڼسي وغوښتل، خو هغه يې و نه کارول او په خپلو توبرو کې يې کيښودل. د شپې تر نا وخته به د اوبدلو له دستګاه سره ناست وو، چې ټوکر اوبي.

امپراتور يو وار له ځان سره و ويل:«زړه مې غواړي پوه شم چې د کاليو اوبدلو کار څه ډول روان دی؟»، خو کله يې چې دا خبره په ياد کيدله چې: هغه خلک چې احمق او د خپل مقام وړتيا نه لري، نه شي کولای چې دا ټوکر وګوري، نو په زړه کې يې عجيب حالت پيدا شو او له ځان سره يې و ويل چې اړينه نه ده چې له ځانه و ډار شي، خو زړه يې غوښتل چې د لومړي ځل له پاره بل څوک ور وليږي چې هلته څه تيريږي.
د امپراتورۍ په ټولو برخو کې د دې جادويي جامو د کيفيت په باب خلکو يو څه اوريدلي وو او ډيری خلک دې ته سترګې پر لارې وو چې په دې پوه شي چې ګاونډي يې څومره احمق او د خپل کار وړ نه دی.
امپراتور سوچ وکړ چې:«زه بايد خپل مجرب او وفاداره وزير په اوبدونکوو پسې وليږم چې د هغوی کارونه څنګه روان دي. دا ځکه چې دا وزير پوه سړی دی او له ده پرته بل هيڅ څوک د ده د مقام وړتيا نه لري.»

پوه او د باور وړ وزير هغې کوټې ته ورغی چې دوه مکار اوبدونکي د تشې دستګاه په څنګ کې ناست دي او د اوبدلو په نامه ښوري، خو وزير څه و نه ليدل او له حيرانتيا نه يې سترګې بوتې را و وتې او له ځان سره يې و ويل:«خدايه و رحميږي، زه خو هيڅ شی نه وينمه.»، خو څه يې و نه ويل.

مکارانو له ده و غوښتل چې د ټوکر اوبدلو دستګاه ته ور نږدې شي. هغوی تشې دستګاه ته په اشارې سره له وزير نه د اوبديدونکي ټوکر د طرحې، رنګ او ښکلا په باب پوښتنې کولې. زاړه وزير چې هر څومره خپلې سترګې خلاصې کړې اوبيا يې د دقت له پاره سره غونجې کړې، څه يې و نه ليدل، ځکه چې هلته هيڅ شی نه و.

وزير له ځان سره و ويل:
«يا خدايه! آيا زه نا پوه يم؟ هيڅ کله مې باور نه کيږي، که رښتيا داسې وي، نو ښه ده چې څوک پوه نه شي، آيا زه د دې مقام وړ نه يم؟ نه، دا به هيڅ ښه نه وي چې و وايم: هغه ټوکر چې اوبي، زه يې نه شم ليدلای.»



یوه مکار په داسې حال کې چې د اوبدلو پیښې یې کولې، و ویل:«ښه! د ویلو له پاره څه نه لرئ!»

زاړه وزیر د خپلو عینکو له هغه اړخ نه د باندې وکتل او وې ویل:«واه ښکلی دی! دا طرحه، دا انځور او دا رنګونه! هوکې، زه به امپراتور ته و وایم چې ما یې له لیدلو نه په رښتیا خوند واخیست.»

دواړوو اوبدونکوو و ویل:«موږ. ویاړوو» او وروسته یې د طرحو او رنګونو نومونه یاد کړل. زاړه وزیر د دوی خبرو ته په دقت غوږ ونیو، څو وکولای شي هغه بیا امپراتور ته تکرارکړي او دا کار یې په هوښیارتیا تر سره هم کړ.

اوس نو دواړو تیرایستونکوو سړیو د ټوکر داوبدلو له پاره د نورو ډیرو پیسو، وریښمو او زرینو سپڼسیو غوښتنه وکړه چې هر څه خپلو جیبونو ته واچوي. د اوبدلو دستګاه لکه پخوا تشه چلیده، حتی یو سپڼسی هم په دستګاه کې نه لیدل کیده او دوی د کار کولو پیښې کولې.

امپراتور په ډیره بیړه خپل یو بل د باور وړ استازی ور ولیږه چې وګوري د ټوکر د اوبدلو کار څنګه روان دی او کله به پای ته رسیږي. په دې استازي هم د زاړه وزیر کانه وشوه. دې استازي هم وکتل او وکتل، خو پرته له تشې دستګاه نه یې بل څه ونه لیدل.

دې استازي ته هم دواړو مکاروو نارینه وو دهغه څه په باب څرګندونې وکړې ، چې هلته نه وو او بیا یې ور نه وپوښتل:«څنګه! ښکلی ټوکر نه دی!»

د امپراتور استازي ځان سره فکر وکړ«زه احمق نه یم، ضرور زه د خپل مقام لیاقت نه لرم! د خندا وړ ده! خو ما سره ښایي چې د چا را باندې پام نه شي.» او له دې سره یې د هغې ټوټې د طرحو او رنګونو په

ستایلو پیل وکړ چې هیڅ نه لیدل کیدل او مکارانو ته یې و ویل چې څومره یې ټوټه خوښه شوې ده. بیا نو امپراتور ته ورغی او ورته وې ویل:«هوکې، یوازې ښکلی دی!»

ټول ښار د هغه پرتمین ټوکر په باب غږیده چې دوو مکارانو اوبه. په پای کې امپراتور پریکړه وکړه چې ټوکر د دستګاه پر سر وګوري.

امپراتور له یوې منتخبې ډلې سره چې د ده دوه پخوا ورلیږلي استازي هم په کې وو، هغې کوټې ته ننوت چې مکاران لګیا وو او په ډیر جدیت یې د اوبدلو دستګاه کاروله چې یوه ټوټه څه، حتی یو سپېسی هم په کې نه و.

د امپراتو دوو باوري استازو غږ وکړ:«وګورئ! اعلیحضرتا، څه ښه رنګ او څه ښه طرحه ده. آیا ډیره عالي نه ده؟»

دواړو زړو او باوري استازو تشې دستګاه ته داسې اشاره کوله، ته وا رښتیا ټوکر په کې دی او ټول یې لیدلای هم شي.

امپراتور ځان سره و ویل:« یعني څه! زه خو څه نه وینم! بیرونکې ده! آیا زه احمق یم؟ آیا زه د امپراتور د واک وړتیا نه لرم؟ دا له ټولو نه خطرناک څه وو چې کیدای شول ما ته را پیښ شي!» بیا یې تشې دستګاه ته په کتو سره د رضایت په ډول سر وښوراوه او وې ویل:«اوه، ډیر ښایسته دی! ډیر مې خوښ شو.» هغه نه غوښتل وایي چې څه نه شي لیدلای.
ورسره تللو درباریانو پر دستګاه سترګې وګنډلې، ډیر ټیټ و پاس شول، څه یې و نه لیدل، خو ټولو امپراتور غوندې و ویل:«اوه، ډیر ښکلی دی!» او امپراتور ته یې سپارښت وکړ چې د ده له پاره، له همدې ټوټې نه جامې وګنډل شي چې امپراتور یې په راتلونکو مراسمو کې واغوندي.
هغوی ټولو و ویل:« عالي دی! ښکلی دی! پرتمین دی.» دا خبره خوله خوله شوه او ټولو رضایت ښکاره کړ. او امپراتور هم دواړو مکارانو ته «د اوبدلو د دستګاه نجیب زاده» لقب او د شوالیه نشان ورکړ چې پر ټټرونو یې ور ته و نښلوي.

دواړه مکار اوبدونکي، د مراسمو له تر سر کیدو یوه شپه مخکې، له شپاړسو لګیدلو شمونو سره شپه په وینه سبا کړه. خلکو کولای شول وګوري چې هغوی د امپراتور د نویو جامو د کار د خلاصولو له پاره څومره هڅه کوي.هغوی داسې ښودله چې ټوکر له دستګاه نه را باسي، هوا په غټو قیچیانو غوڅوي(باد ته یې توره ایستلې) او په بې سپنسیو ستنو باندې یې ګنډي. او په پای کې یې غږ وکړ چې د امپراتور جامې تیارې دي!

امپراتو له خپل ځانګړي ګارد سره په اوبدونکو پسې ورغی. دواړو مکارانو خپل لاسونه هوا ته داسې جګ کړل لکه کوم شی چې یې په لاسونو کې وي او وې ویل:«دا پرتوګ، دا کمیس او دا هم خولی» او پسې زیاته یې کړه:«د غنې(جولا) د تار په سبک جوړې دي! کله چې واغوستل شي، انسان فکر کوي چې څه شی یې په ځان کې نه شته، همدا د دې ټوټې ښیګڼه ده.»

د ګارد غړو ټولو په یوه خوله و ویل چې هوکې، خو دوی څه نه وو لیدلي، ځکه چې د لیدلو له پاره هیڅ شی نه وو. دوو مکارانو و ویل:«که د اعلیحضرت غوښتنه وي، مهرباني دې وکړي خپلې جامې دې وباسي! موږ به د لویې آیینې په مخ کې تاسو سره مرسته وکړو چې خپلې جامې واغوندئ.»

امپراتور خپلې ټولې جامې وایستې او دواړو مکارانو داسې ښودله چې د ګنډل شوو جامو هره برخه جلا جلا ور اغوندي، بیا یې داسې پیښې وکړې چې ګنې کوم شی یې له ملا نه ور تاووي او ورپسې د جامو شاتنی

برخه چې ورپسې زوړنده وي. امپراتور را تاو شو او د آيينې مخکې ودرېد. ټولو و ويل:«اوه خدايه! څنګه درسره ښايي، څومره مناسبې دي! څه ښه رنګ! څومره ښه طرحه! ډېرې قيمتي جامې دي!»

د دربار د تشريفاتو رييس و ويل:«اعليحضرتا! هغه چتر يا خيمه چې د مراسمو په لړ کې بايد ستاسو پر سر وي، چمتو ده.»

امپراتور داسې ښودله چې ګڼې د ډېرو مجللو او ښکلو جامو د امتحانولو په حال کې دی، يو ځل بيا د آيينې مخکې را تاو شو او وې ويل:«ښه زه چمتو يم، آيا نه را سره ښايي؟»

دوه تنه درباريان چې بايد د امپراتور د جامو وروستۍ زوړنده برخه يې په لاس کې ورپسې وړې وای، د ځان غولونې په ډول لاسونه پرغولي باندې ښورول چې ګڼې د جامو زوړنده برخه په لاس کې نيسي، نو داسې يې وښوده چې دوی د جامو وروستۍ زوړنده برخه ونيوله، لاسونه يې په هوا کې ښورول چې څه شی وړي. هغوی نه شو کولای دا ومني چې څه نه ويني او څه شی نه شته.

بيا امپراتور د هغې کيږدۍ خوا ته ورغی چې هلته مراسم تر سره کيدل. ټول ښاريان د واټونو په اړخونو کې ولاړ وو او يا يې له کړکيو نه راکتل او ويل يې:«خدايه! د امپراتور جامې څومره ځانګړې دي! شاتنۍ برخه يې څومره ښکلې ده! په امپراتور باندې څومره ښې ښکارېږي!» او په ټولو خلکو کې يو تن هم نه و دا ومني چې څه شی نه ويني. که چا څه ويلي وای، بيا ويل کيدل چې دا احمق دی او د خپل کار وړتيا نه لري. مخکې له دې هيڅ کله د امپراتور جامې دومره د پاملرنې وړ نه وې ګرځيدلې.

د خلکو په ډله کې يوه کوچنې نارې کړې:«د امپراتور پر تن څه شی نه شته، لوڅ لپړ دی!»




د کوچنې پلار و ويل:«پاکه ربه، د دې بې ګناه کوچنې خبرې ته غوږ شئ.» او خلکو په خپلو منځو کې په ګونګوسې پيل وکړ او هغه څه چې کوچنې ويلي وو، دوی هم بيا ځلي و ويل:«د امپراتور پر تن څه شی نه شته، وړوکی ماشوم وايي چې د هغه په ځان کې څه شی نه شته.» او په پای کې ټولو چغې کړې:«د امپراتور پر تن څه شی نه شته.»

امپراتور وريېرديد، ځکه هغه باوري و چې حق د خلکو په خوا دی، خو له ځان سره يې و ويل:

«زه بايد مراسم تر سره کړم.»

او په غرور سره يې ګام اوچت کړ. دوه درباريان چې د جامو د وروستۍ برخې د وړلو پيښې يې کولې، هماغسې ورپسې روان وو!»